ليکوال: سراج الحق ببرک زی ځدراڼ ۲۰۱۱/۱۲/۲۷

# دافغان کوچيانوحقوق، تاريخ او ژوندبڼې ته ګواښونه

(دوهمه او ورستي برخه )

۳. د کوچيانو او ميشتو اوسيدونکو اړيکي

کوچيان دميشتواوسيدونکوسربيره له حيوان اوطبيعت سره هم ډيري عاطفي نږدي، نشليدونکي اړيکې لري. کوچيانو دهيواد په هره سيمه کې تل دځای ميشتو ولسونوسره له زرګونو کالونوڅخه سوداګريزه، تولنيزه، سوليزه او د وروګلوي ښي اړيکې ساتلي دي. د نړی په ډيروبرخو کې دکوچيان او ځای ميشتي وګړو ژوند بڼې يو بل ته اړتيا لري. کوچيان، کروندګر او ښاري وګړي په يو ځنګړي تعادل کې يو بل ته اړتيا لري. کوچيان په شفاهي ډول ديوې سيمې خبر بلي ته له ځان سره ليږدوي.

دکوچيانو دوديزه کولتور ي او د ارزښتونوڅادر د موسومي پرلپسي تګ، راتګ له امله د کابل ښار په کوڅو، بازارنو او ښاري خلکو په فکرونه، عادتونو باندې غواړولي دی. د کوچيانو تګ راتګ، دود، دستور، عادتونو او فکر نو سره هر افغان اود کابل ښار ښاريان ښه اشنا دي. کابل کې زماکورني د کوچيانو له کورنيو سره د لسګونو کالونو څخه ډيري ښي اړيکې درلودلي دي. ډيرې پښتانه افغانان او نور لړه کې افغان توکمونه د خپل اصل او نسب شجره او د نيکونه په اړه مالوما ت د کوچيانوپه تاريخ کې درپيژني. د افغانستان په مرکزي سيمه کې کوچيان او هزارګان د څوپيړيو څخه را په ديخوا سوليز او د هيوادوالي ګډ ژوند لري. کوچيانو تل ديوه ځړځای څخه تربل ځړځايه او د مالومو لرغونو تلو راتلو په لاره کې د ميشتو کليوالي خلکو سره ښي اړيکې ساتلي دي. تر ډيره بريده د دوی اړيکې د توکو پر ادلون او بدلون ولاړې دي. د کوچيانودتلو، راتلو په لاره کې مېشت بزګران د دوی دحيواني سرري يا غوشيبو څخه په خپلو کروندو او د خپلو کورنو په پخلنځيو کې هم کار اخيستلي او اخلي.

په ورستيو څوکالونو کې د کوچيانو اود ځينوسيمه ييزو اوسيدونکو ترمنځ په ځرځايونو باندې شخړې راولاړې شوي دي. داشخړې هرکال د دوبی په رارسيدو سره پيل کيږي، کله چې کوچيان خپلو مينو او ځرځايونو ته راګرځي. دسيمې ځيني خلک چې د هيواد د ملي يوالي د دښمنانو لخوا غولول کيږي او د کوچيانو پر بنستيزو دوديزه، لرغونو،عادتي حقوقو نه پوهيږي، دوی کوچيانو ته د خپلو مينو د ورتګ په لاره کې خنډونه جوړي.

دکوچيانو او سيمه ييزو اوسيدونکو ترمنځ په ځرځايونو او ورشوګانو باندې راولاړ ې شوېوشخړې د ورستيو څوکالونو ستره ستونزه بلل شوي هم ده، داشخړې تل دمرګ ژوبلو سره مل دي. د شخړو او تربګنيو لمن په پراخيدو ده. هر کال په دې راوړو شويو شخړو کې دوارو خواوو ته درانه زيانونه هم اوړی. د اوږدي وچکاليو، د بهرنيو يرغلګر پرلپسي بمباريو،جګړو، ماينونو او ناامني له وجهي د کوچيانو اتيا سلنه څاروي له منځه تللي دي. دجګړه مارو ډلو له خوا دکوچيانو څخه په زور څاروي هم اخيستل شوي دي.

دکوچيانو او ځای ميشتو افغانانو ترمنځ اوسنې کړکيچونه د دولتي چارواکو ددولتي ځمکو دملکيت او د ځرځايونو نا سم قانون او ناسم سياست له امله رامنځته شوي دی. داسي مالوميږي چې دځرځايونو، ورشوګانو واک او پخواني دوديزه قانون يا سيستم د توپکمارو جنايتکارو ډلو په لاس کې ورغلي دی. کوچيان دسلګونو کلونو څخه اصولي اسناد يا لاسوندونه په لاس کې لري او دغو اسنادو پربنسټ د دوی حق پر ځرځايونو ثابت کيږي. نن د دوی دملکيت اسنادونو قانوني ارزښت مالوم نه دی.

نن په ميليونونه افغان کوچيان، په ميليونونه پښتانه قبايل او په ميليونه افغان کډوال دافغانستان اټکل ۷۰ سلنه وګړي جوړوي. د دوی بيرته انتګريشن يا ميشته کيدولوحق د افغانستان په ننيوقوانينوکې د کاغذ پر مخ پاتي شوي. د افغانستان په ټولو وګړو کې کوچيان بي حقوقه او له هره خوا له ګواښ سره مخامخ وګړي دي. کوچيان نه يواځې زموږ د افغاني ټولنې يوه ورسته پاتې ځوريدلي کړيدلي برخه ده، بلکې زموږ د ټولنې يوه بدمرغه او د خپلو بنسټيزو حقوقو څخه محرومه اومظلومه ډله جوړوي. په کوچيانو دهيواد دنورو وګړو په پرتله دهوا اواقليم بدلون اوسپيره چاپيريال ډيره بده اغيزه کړي لکه، په دوبي کې له وچکالي، په ژمي کې سخت ساړه نه يوا ځي کوچيان، بلکې د دوی څاروي له سترو ګواښونو سره مخامخ کړي دي.

د ۲۰۰۱ کال څخه راپديخوا د ټولو افغانانو په ژوندکې لږ څه بدلون راغلي دی. په دغه پرمختګ کې بيا کوچيانوته خپله قانوني برخه ورکړل شوي نه ده. د افغانستان په شمال کې دوی دجګړه مارو ډلو له خوا د طالبانو په نوم ګډوال شوي دي. ډير کوچيان مجبور کړل شوي، په لوی کندهار، هرات، او دپښتونخوا په ډيرو ګواښمنو، ناامنو، لرو پرتو سيمو کې استوګن شي. دغو کوچيانو خپله ټوله شتمني له لاسه ورکړي ده. د روغتيايي اسانتياووي، دښووني او روزني،د څښاک پاکو اوبو، بي روزګاري او داسي نور د ژوند له لومړنيو حقوقو څخه بي برخي کړل شوي دي.



افغان جرمن آنلاين تاسو په درنـښت همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

افغان حکومت کوچیان یي د ګرځنده روغتونو، ښوونځیو په وعدو ورکولو سره لکه کوشنیان تیریستالي دي. ډیروکوچیانوله همدې امله خپلي کیږدې له ختینوجونګړوسره بدلي کړي دي. نن اټکل نیمایي کوچیانو په ډیرو ناوړو شرایطوکې له مجبوریته مېشته شوي دي. کابل کې دکوچیانو یوختین ښارګوټي رامنځته شوي دی.
کوچیان نه شي کولي دخپلو تولیداتو په بدل کې د ژوند د اړتیا وړ ټول توکي راونیسي. دوی مجبور دي په لاره کې د نورو توکو سوداګري هم و کړي.
نن کوچیان لنډ مهاله انساني ،اقتصادي مرستو ته اړتیا لري، کوچیان د راتلونکې دولتونو څخه خپلو رمو، خپلو څرځایونوته، خپل انساني بنسټیز حقوق دخپلي خوښی ژوند بڼي لپاره غواړي.
که کوچیان خپل کوچیاني ژوند پریږدوي سبا به څه کیږي، څوک به په هیواد کې دغه ستره اقتصادي بنسټیزه تشه ډکوي. که کوچیان خپلو څارویو ته واښه ورنه کړو، څوک به له وګړو ډکو ښارونو ته، چې د څارویو له کمښت سره مخامخ دي،غوښه ولږدوي. د ساری په ډول افغانستان ته د لوی اختر پر مهال د قرباني لپاره څاروي او پسونه له بهره څخه وارد کیږي. که کوچیان ځکمه ولري، زما اوستا په خیر به ولیدل شي. که کوچیان ښوونځي ته لاړ شي، زما او ستا غوندی به یو څو کتابونه ولولي.

۴. افغانستان کې د کوچیانو سیاسي، اقتصادي او کولتوري ارزښت

زموږ په ټولنه کې د کوچیانو اقتصادي ارزښت ته ډیر لږ پام شوي دی. کوچیان د افغانستان په دویزه اقتصاد کې خپل منل شوي اقتصادي ځای لري. دوی د زرګونو لارو څخه د میشتو اوسیدونکو سره هراړخیزه اقتصادي اړیکې لري. له همدې سره د کوچیانو د ژوند بڼه له لرغونو زمانو څخه په افغاني ټولنه کې دکار ویش او مسوولیت اخستلو نښانه راڅرګندیږي. کوچیانو دمیشتو اوسیدو نوکو سره د توکو ادلون بدلون له امله نه شلیدونکې اړیکې لري.

کوچیتوب یو ګرځنده ژونداوپه څارویو سپوراقتصادي ژوند دی. د کوچیانو ژونداوحالت څو اړخیزه بڼه لري. کوچیان نه یواځې په خپل هیواد کې له زرګونو کالونو څخه د خپلو څاریو لپاره دزرغونو څرځایونو، ښه هوا په لټه کې دي. بلکې دوی په افغانستان کې د سویلي اسیا او منځني ختیځ ترمنځ لرغوني سوداګر پیژندل دي. افغانستان کې دجګړې څخه مخکې دکوچیانو د څارویو روزنه ،پالنه او شتمني زموږ دولسي اقتصاد دبنسټ یوه ټینګه مټه جوړه وله .
کوچیان پخوا دافغانستان اټکل نیمایي پسونه، وزې او اوښان روزل. د کوچیانو نامتوسپي، اوښان، میږي، اوزې، غواګانې، اسونه، خره، جرګان، پړې یا رسي، شودې، مستي، پنیر، غوښه، وړي، څرمن، د قرقول پسونه، پوستکې او په نړیواله کچه پیژندل شوي لاسي صنایع لکه ټغر، لمڅې، ښکلي افغاني جامي او د سپینوزرو افغاني ګاڼي د کوچیانو د تولیداتو له توکو څخه دي. پخوا کوچیان په افغانستان کې له خپلو کاروانو سره افغانانو ته تازه غوښه، غوړي، شودي، وړي او نور حیواني توکو په رسولو کې جبران نه کیدونکې خلک وو. نن افغانستان ته له بهر څخه د خوراکې توکو د وارداتو او نړیوالو مرستو له وجهي کوچیان خپل لرغوني اړین اقتصادي ارزښت په ټولنه له لاسه وکړي دی. په دودیزه توګه دوی خپل تولیدي توکې له چاي، بوره، غنمو، سبا او داسي نورو توکو سره بدلوي. افغان کوچیان د افغانستان سیاسي، اقتصادي ثبات لپار ه د پام وړ او خورا مهم خلک دي. له پنځو زرو کالونو څخه را په دیخوا افغان کوچیان په سیمه کې ډیر ټکړه ترانسپوتران، سوداګر دي او د سویل ختیز اسیا او منځني ختیز ترمنځ یو ګرځنده اقتصادي پل جوړ کړي وو .
د بانکونو د نشتون له امله افغان کوچیانو خپلي نقدي پیسې میشتو اعتباري خلکو ته په پور ورکولي. نن ډیر کوچیان د اقتصادي کمزوتیاو له امله مجبور شوي چې خپل څاروي په مسلسل ډول وپلوري .دوی حیواني محصولات لکه شودې، وړي، د څارویو پوستیکې او غوښه پلوري، ترڅو پیسې د خپل ورځني ژوند لپاره تر لاس کړي. کوچیان زموږ په ټولنه کې ګرځنده شپانه دي، کوچیانو د خپلو رمو او څارویو د پاتی کیدو لپاره د خپلي کورنیو سره ډله ډله د یوي سیمې څرځای څخه بل ته ځي.
دکوچیانو سیاسي ارزښت له اقتصادي ارزښت څخه نوره هم مهم دی.
په نړۍ کې ډیرو کوچي ولسونو ملي دولتونو ته یو سرحدي کړکیچ رامنځته کړي دی. دغه کوچې قومونه په هیواد کې له حکومتي ولس سره هیچ کوم قومي هویتي او ژبني اریکې نه لري، دوی تل له یو هیوادڅخه بل هیواد ته پرته له ویزي ګډه کیږي. دوی د نړیوالوسرحدي پولو خیال نه ساتي. کوچیانو دنړۍ ډیرو ملي دولتونو ته یو سرحدي کړکیچ رامنځته کړي دی. کوچیان په اوسیدونکې هیوادونو کې کوم هویتي، توکمي، ژبني، کولتوري او له حکومتي ولس سره اړیکې نه لري. له همدې امله دوی سیاسي نړیوالو پولو ته درنښت نه لري او بې پامه له یوه هیواده بل هیواد ته ځي. دغه ملي دولتونه هڅه کوي چې کوچیانو په خپلوهیوادو کې میشت کړي، دوی ته د ژوند اسانتیاوې او مساوي حقوق برابرې وي، ترڅوکوچیان په خپلو اقتصادي او سیاسي سیستم او ملي ثبات کې ورګډکړي.
په افغانستان کې افغان کوچیان د نړۍ یواځنې کوچیان دی، چې خپل لرغوني هیواد لري او هیواد یې د دوی په نوم یاددیږي. افغان کوچیانو ته د انګریزې کولونیستانو له خوا ایستل ډیورنډ توره کرښه هیڅ کوم قانوني ارزښت نه لري. کوچیانو هیڅ کله دډیورنډ تپل شوي کرښې خیال لکه درست افغان ولس ساتلي نه دی. کوچیان لومړني افغانان وو، چې دوی د خاورو پر مخ د بیلتون کرښه د پښتنو په منځ کې ماته کړه ده.


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

خپلواک افغان کوچیان د امونه تر اباسینه له بولانه تر چتراله لوی افغانستان خپل تاریخي پلارني هیواد ګڼي. کوچیانو تل له خپل پلارني هیواد افغانستان څخه د یرغلګرو په وړاندې په میړانه دفاع کړې ده. د زرګونو کلونو څخه راپه دې خوا د دوی تګ، راتګ مخه څوک نه په زور او نه په قانوني توګه نیولې. د کوچیانو په اړه کومه دقیقه رسمي شمیره نشته، په افغانستان کې کوچیان اکثریت پښتانه افغانان دي .

د افغانستان داټکل دیرشو میلیونه وګړو څخه اټکل د دربوڅخه تر شپږ میلیونه وګړي کو چیان اونیمه کوچي هیوادوال دي.

د افغان کوچي وګړو د شمیرکمیدو په لاملونو کې وچکالي، ماینونو، د روسانو وحشي هوایي بمي بریدونه ، دامریکا بي دوه پنځوس الوتکوکلاستر خوشیي بمباري، د دیرش کلني جګړې نورینونو او جګړه مارو جنګي ډلو ستر ونده اخیستي ده.

افغان کوچیان هیڅ مهال د ګوډاګي دولتونو خلک نه وو، دوی هغو دولتونواو هغه وسله وال ځواک ته سر ټیټوي، کوم چې اسلامي، ملي مشروعیت، ملي واکمني او ملي ځانګړتیاووي ولري. دوی ملي دولتونو ته دخپلو شتمنیو دمالیه ورکولوڅخه سرغړونه هم نه ده کړې.

کوچیانو د خپل کوچیتوب ژوند بنې له امله د افغانستان په فعال سیاست کې سمه ونډه نه درلودلې.

کوچیان کومه پته یا ادرس نه لري. کوچیان په رښتیا سره نیمه خپلواکي خلک دي. هر کوچي له خپل ځان څخه خپله دفاع کوي.

اصلي پخوانیو کوچیانو دسولي پرمهال په یو ښه ټولنیز سیستم کې سولیز ژوند کاوو، کورني په دوی کې یو خورا مهم رول لوبولو. کوچیان پخوا د ژوند داړتیا وړ په توکو باندې ښه سمبال وو.

کوچیان پرته له خپل کولتور څخه بل نه مني. کوچیان پرخپل کوچي کولتور او خپل ژوند بنې باندې ویاړي.

کوچیان د بشر د تاریخ له پیل څخه بیا تر ننه کوچیان دي، کوچیان تر اوسه د نړۍ څخه د کوچیانو په څیر تللي دي. کوچیان پرته له کوچي ژوند څخه بل کوم ژوند نه پیژني. ډیری کوچیان په ډیر فخر او ټینګ ایمان سره په دې باور دي، چې لوی خدای دوی کوچیان پیدا کړي دي او دوی به د ژوند تر پایه له خپلو څارویو سره په غرو، درو او دښتوکې ګرځي. کوچیان دافغانستان د کولتوري او دودیزه ژوند یوه ستره برخه جوړوي. زموږ د پښتني خاوري لاندې او باندې کوچیان اوسیږي. کوچیان په افغانستان کې زیږیدلي دي او دوی به دلته خپلواک له دې نړۍ څخه ځي.

۵. پایله

میلیونه کوچیانو ته د افغانستان د بیارغوني په بهیر کې هغسي پام نه دی شوي، څنګه چې باید شوي وي. که دافغانستان د راتلونکي دولتونو په سیاست کې دکوچیانو سیاست ته پام ونشي، افغانستان کې د پښتنویوه ستره برخه خپل کولتور، خپل ملي هویت، خپل تاریخي شتون له لاسه ورکوي. کوچیان د خپل ګرځنده ژوند له امله د افغاني ټولني او انساني نورمال ژوند څخه بهر اوسیږي. نړۍ کې د وګړو په چټکه ډیرو دو ته په کتوسره ویلو شو، چې دکوچیانو د ځرځایونه او د دوی ژوندبنې لپاره ډیر ه لږ سیمه پاتې کیږي. تاریخ او اوسني نوي مهال دواړه د کوچیانو او دمې‌شتو ولسونو د ژوند بنې په ډول باندې ستره اغیزه لري.

دنړۍ حکومتونو په ورستیو پنځوسو کالونو کې هڅه کړې چې کوچیان ځای میشت کړي. د افغان دولتونو سیاست د کوچیانو د میشته کیدو په اړه ناڅرګند دی.

له بله پلوه هیڅا د کوچیانو څخه اصولي پوښتنه نه ده کړې، چې دوی دڅوند کوم ډول ژوند بنې ته هیلمن دي. داسي مالومیږي چې کوچیان نه غواړي ځاې میشتي شي، کوچیان یواځې د خپل کوچیاني ژوند ثبات د کوچي کولتور هوساینه او دخپلو ارزښتونو حقوقو ښوالي غواړي. زموږ په هیواد کې کوچیان دکالونو کالونو څخه له هر ډول ټولنیزه، اقتصادي، سیاسي، کلتوري او ښونیزو پرمختیاوو څخه بې برخې پاتې شوي دي. کوچیانو تل د دولتي او نا دولتي ادارو د نه پاملرنې له امله شکایتونه کړي ،په خواشیني سره د کوچیانو غږ څوک نه اوري . افغان کوچیان باید په افغانستان د خپل راتلوونکي لپاره د غوښې ژبې سره سره خپل غږ جګ کړي .

اوس د دې وخت راغلي، چې کوچیان د خپل ژوند د پاینت لپاره په یوځای کې استوګن شي. د کوچیانو لپاره دودیزه ګرځنده کوچي ژوند بنه او چال چلند نور د زغملو او ګرځولو نه دی. کوچیان په خپل پلارني هیواد کې د نورمال ژوند لپاره ځمکه غواړي، چې خپل کورونه په کې اباد کړي. کوچیان خپل ماشومان په ورکتون او پوهنتون کې د نورو به شان روزل غواړي. کوچیانو غواړي د دوی درملنه په ټولګټي روغتونو کې تر سره شي.

کوچیان د څښاک لپاره پاکې او په خپل کوهي کې اوبه غواړي. د کوچیانو ماشومان په کور کې د لوستلو او زده کړو لپاره برښنا غواړي. کوچیان د خپل کوچي ژوندبنې د بدلو په بدل کې کار غواړي. کوچیان یو نورماله ژوند لکه نور افغانان غواړي، کوچیان له حکومت څخه د استوګن کیدو لو خپل بنسټیز حق غوښتنه لري.

د کوچیانو دښووني او روزني لپاره د ځانګړي پروګرامونو پیلول غواړي. لنده دا چې په افغانستان کې کوچي ټولنه مثبت بدلون غواړي. دکوچیانو دا غوښتني تل په ولایتي شوراګانو،ولسي جرګه، مشرانوجرګه او په دولت کې د دوی د کمښت له امل له ډیرو خنډونوسره مخامخ کیږي.



افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکني د لیکنیزی بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

د کوچیانو لپاره څرځایونه  او ورشوګاني د ژوند بنې بنسټ  او خورا مهم توکي  دي، څوک چې د کوچیانو دغو زړو، دودیزوارزښتونو، نورمونو او قانون په وړاندې راولاړلیږي، دې باید درې ځلي فکروکړي، چې کوچیان نن کمزوره او بي وسه  دي ،سبا ته نه دي.

پای




افغان جرمن آنلاین په دربښت تاسو همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ